د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه ۱۶ محرم ۱۴۳۹هـ | ۲۶-۰۹-۲۰۱۸م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۰/۰۱

**مطبوعاتي اعلامیه**

## افغان امنیتي ځواکونه؛ پر اوراسیا د امریکا د ولکې د ټینګښت لپاره د سون توکي

په افغانستان کې ناوړه امنیتي وضعیت او د نظامي او ملکي وګړو د تلفاتو زیاتوالی سنا مجلس ته د امنیتي سکتور د وزیرانو د استجواب لامل شو. په دې ناسته کې د افغانستان د دفاع وزیر په ښکاره تایید کړه چې په تېره یوه میاشت کې د پوځ تر ۵۰۰ زیات سرتېري وژل شوي او تر ۷۰۰ زیات ټپیان شوي دي. د کورنیو چارو وزیر هم د افغانستان د سنا په ناسته کې وویل چې هره ورځ د پوځ او پولیسو ۳۰ تنه سرتیري وژل کېږي.

په روان کال کې د افغان امنیتي ځواکونو د تلفاتو شمېرې دومره ټکان ورکوونکې او بې‌ساري دي چې د افغانستان دولت یې د پټولو امر ورکړی او له ډېر وخت وروسته دا لومړی ځل دی چې رسمي سرچینې د تلفاتو شمېرې بیانوي. که څه هم د قربانیانو د کورنیو نقل قولونه، د جګړې شدت او عملي واقعیتونه دا په ډاګه کوي چې د افغان امنیتي ځواکونو د تلفاتو کره شمېرې تر پورتنیو هغو څو برابره زیاتې دي.

خو څه چې د بحث وړ دي، هغه دا چې د افغان سرتېرو وینه په کومه لار کې تویېږي؟ د اسلام په لار کې که په اوراسیا کې د امریکا د سیمه‌ییزو ګټو د خوندي کولو لپاره؟

کره واقعیت دا دی چې د امریکا او افغانستان تر منځ د امنیتي تړون له لاسلیک وروسته امریکایي ځواکونه د جګړې له لومړۍ کرښې څخه خورا خوندي اډو ته ستانه شوي، تر څو په کمو مالي او ځاني تلفاتو د افغانستان جګړه رهبري کړي. جنګي مسئولیتونه یې افغان امنیتي ځواکونو ته ورسپارلي او هغه وسله چې تر اوسه د اشغالګرو ځواکونو پر وړاندې کارول کېده، له دې وروسته د مسلمانو ورڼو په مقابل کې وکارول شوه. بېشکه په داسې حالت کې د افغان امنیتي ځواکونو تلفات زیاتېږي او دا ځواکونه د سون د توکو په څېر د یوه مصرفي ځواک په توګه په اورسیا کې د امریکا د سیمه‌ییزو موخو او ولکې د ټینګښت لپاره کارول کېږي. امریکا او د افغانستان دولت د تلفاتو د کمولو لپاره هېڅ کوم میکانېزم نه لري او یوازې د سرتېرو د مړو په شمېرلو بوخت دي.

نو لازمه ده چې د افغانستان مسلمان خلک د خاینو چارواکو او د دوی د بادارانو خیانت او د دې چټلې جګړې واقعیت درک کړي او پرېنږدي چې د خپلو اولادونو د وینې په بیه یې په افغانستان کې د امریکا جګړه‌ییز ماشین په حرکت راشي؛ بلکې هڅه دې وکړي چې د افغانستان د مسلمانو ځوانانو انرژي او ځواک د اسلامي دولت، د اسلام د حاکمیت او د استعمار د جرړو په ایستلو کې مصرف شي، نه د اشغالګرې امریکا د حاکمیت په لاره کې، چې هره ورځ یې لاسونه د افغانستان د مسلمانانو په وینو سره دي او ماشومان یتیموي، ښځې کونډې کوي، کورنۍ بې سرپرسته کوي او د ویر پر ټغر یې کېنوي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحریر ولایه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمیل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحریر رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info